
# د چک ولسوالی نه (۹)
# برجه کلا



لیکوال: داکتر معمار حشمت الله اتمر
ییخلیک: ثله / کال ۱۴۰۷ الیردی

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library


**لیکي پوهه:**

**سرلیک:** **د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا**

**لیکوال:** داکتر مهندس حشمت الله ,, اتمر ،،
**ایډېټور:**
**د پخښنتی ډیزان:** داکتر مهندس حشمت الله ,, اتمر ،،
**خپرندوی:**
**چاپشمېر:** ۳۰
**چاپ نېټه:** تله / کال ۱۴۰۷
**واټس اپ:** ۹۳۷۹۹۳۷۶۹۹۸+
**برېښنالیک:** atmar_hashmatullah@yahoo.com

د چاپ حقوق له لیکوال او خپرندوی سره خوندي دي، بې اخځ ښووني ترې د کټې اخیستني اجازه نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## لړلیک

**سرلیک** **چوپړی**

پخښتی.................................................................. ۱
بسم الله الرحمن الرحیم .................................................. ۲
لیکي پوهه:.............................................................. ۳
لړلیک ................................................................ ٤
تراڼ (پیل، شروع، برید).................................................. ٦
د یادښتونو له پاره:...................................................... ۸
د میدان وردک ولسوالۍ نخشه (نقشه): ................................. ۹
چک ولسوالۍ: ........................................................ ۱۰
نه برجه کلا:.......................................................... ۱۹
د کلا لنډه تاریخچه:.................................................... ۱۹
د کلا اړخ برجونه:...................................................... ۲۰
د کلا منځ کې بله کلا او بل برج (نهم برج):............................. ۳٤
لویه کلا: .............................................................. ۳۹
تاخچې (طاقچې)........................................................ ٥۰
د کلا لویه دروازه:...................................................... ٦٦
حمامونه: .............................................................. ۸۲
کلا دېوالونو لاندنۍ برخه:.............................................. ۱۰٥
د کلا نه باندې ودانۍ: .................................................. ۱۰٦
د چاپ شویو کتابونو لیست.............................................. ۱۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا**

**....................................**

**د کار لاندې کتابونو لیست ...................................................... ۱۱۷**
**د وخت او امکان په صورت کې.................................................. ۱۱۸**
**د پخښتی ځت ............................................................ ۱۱۹**

(c) ketabton.com: The Digital Library


## تراڼ (پیل، شروع، برید)

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ، الْحَمْدُ لِلَّهِ إجْلَالًا لِقُدْرَتِهِ، وَ لَا إلَهَ إلَّا اللَّهُ خُضُوعاً لِعِزَّتِهِ، وَصَلَّى اللَّهُ عَلَى مُحَمَّدٍوَآلِه .

بې پایه ستاینه او بې حده مننه، د هغه سپېڅلي ذات نه چې د وجود مانۍ او کاینات یې د انساني وجود د تکامل او د انسان له پاره د خپل سپېڅلي ذات او عبادت د حقیقت له پېژندلو پرته جوړ کړل.
هغه د ذات پوهه، عالي، لوړ او ښکلي نومونه دي، او کائناتو د پیدایښت یوه حتمي لامل دی.
عظمت، د تولې نړۍ موجودیت، د ناخاپه څخه راوتل، حق د رسیدو جوهر په یوه والي کې د اعتراف، تباهۍ او بې وسۍ یوه له لوړو وسیلو څخه دی.

**ګرانو لوستونکو!**

دا ځل مې و غوښتل یو بل کتاب د چک ولسوالۍ نه (۹) برجي کلا په هکله ولیکم، د خپلو کتابونو مینوالو او لوستونکو سره یې ګډ (شریکه) کړم.
زما د کتابونو مینه وال یوازې معماران او انجینران نه دي، او نه باید اوسي، نوځکه غواړم ورځ په ورځ د خپلو لیکونو کې توپیر راوړم چې د هرې ځانګې مینه وال په کې ډېر شي، دا کار به ما دېته اړ کړي چې لیکنې مې توپیر و لري او هم به مې مینه وال ډېر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا**

**.....................................**

**پاکه ربه!**

زموږ له پاره خپله لاره بې ستونزې کړه، تر څو موږ له تا پرته بل څوک و نه وینو او نه یې پېژنو.

زموږ سره مرسته و کړه تر څو مو په وجود کې د غرور نخښنه پاتې نه شي او د اسلام د دین له سپیڅلو بنده ګانو څخه مو و بولې.

- د هغو دوستانو او انجینرانو نه مننه کوم، کوم چې د دې کتاب له پاره په انځور اخیستنې کې یې زما سره مرسته کړې ده او د لوی څېښتن نه هغوی ته اوږد عمر او روغتیا هیله کوم.

- د نظر تولو خاوندانو او هغه څوک چې دا کتاب لولي په ډېر درنښت هېله کیږي چې، خپلې غوښتنې او وړاندیزونه د دې کتاب د بیا کتنې له پاره، زما سره ګډ (شریکه) کړئ.

Whatsapp: ۰۰۹۳۷۹۹۳۷٦۹۹۸

په درنښت

ډاکټر معمار حشمت الله اتمر

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا**

**...................................**

**د یادښتونو له پاره:**

۱- ..................................................................

۲- ..................................................................

۳- ..................................................................

۴- ..................................................................

۵- ..................................................................

۶- ..................................................................

۷- ..................................................................

۸- ..................................................................

۹- ..................................................................

۱۰- ................................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا**

**........................................**

## د میدان وردک ولسوالۍ نخشه (نقشه):





(c) ketabton.com: The Digital Library


## چک ولسوالۍ:

« چک دریمه درجه ولسوالي ده (۱۱۹۲) کیلو متره مربع مساحت لري، د بحر له سطحې څخه (۲۲۰۰) متره لوړوالی لري، د (۳۵-۶۸) درجو طول البلد او (۳۴-۰۶) درجو عرض البلد تر منځ شتون (موقعیت) لري.

د چک بریښنا فابریکه او بند هم په همدې ولسوالۍ کې شتون (موقعیت) لري، دا فابریکه د (۱۹۳۶-۱۹۴۱) میلادي کلونو تر منځ د آلمان (جرمني) هېواد په تخنیکي مرسته جوړه، او د دریوو توربینونو په لرلو یې د (۳۳۰۰) کیلو واټه بریښنا د تولید ظرفیت درلود، خو د جګړو او د دولت د نه پاملرني له امله اوس د فابریکې حالت د اندیښنې وړ او ډېر لږ (کم) تولید لري چې فابریکې ته ځیرمه کلي ترې ګټه پورته کوي.



د چک ولسوالی بربېښنا بند انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

.......................................



د چک ولسوالۍ برېښنا بند انځور



د چک ولسوالۍ برېښنا بند انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا**

**..................................**

**څلور خواوې او مهمې حوزې:**

د دې ولسوالۍ شمال لور ته د نرخ ولسوالي، ختیځ ته یې د سید آباد ولسوالي، لویدیځ ته یې د جلګې او دایمیرداد ولسوالي، او جنوب ته یې د جغتو ولسوالۍ پرتې دي.

د چک ولسوالۍ په لاندې څو درو او حوزو ویشل شوې ده:

۱- آمبو خاک

۲- بیک سمند

۳- علیشه

۴- کوز خوات

۵- منځنی خوات

۶- بر خوات

۷- سیوکه (سیبکه)

۸- ګردن مسجد

۱۰- سیاب

۱۱- عربان

۱۲- نیک پایقو ل

۱۳- ګوډه

په دې دریوو حوزو کې، لاندې مهم کلي پراته دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا**

**.................................**

**۱ ـ د آمبو خاک سیمه:**

په دې سیمې کې د اله سنګ، صالح خیل، خړیان، آمبوخاک، ګلدان، شاه قلندر او ګرداب کلي پراته دي.

د دې درې سیمه د خړیانو او اله سنګ له کلیو د سید آباد او نرخ له ولسوالیو جلا کیږي او د لوېدیځ (قبلې) په لورې پرمخ ځې.

دا سیمه هم له اله سنګ پرته د چک له سیند څخه اوبه اخلي، او کلي یې د چک د سیند په دواړو غاړو پراته دي، خو دا سیمه د یوې تنګې درې په بڼه پرته ده.

**۲ ـ د علیشې دره:**

په دې درې کې لاندې مهم کلي پراته دي:

علیشه، لنګر، کولک، شیخ یاسین... دا دره د علیشې د غرونو په لمنو کې او د چک د سیند په غاړه پرته ده، د انګریزانو په خلاف د مجاهدینو قوماندان د غازی محمد جان خان د دې سیمې اوسېدونکی وو.

**۳ـ بیک سمند:**

دا دره د کوز خوات د شمال لور ته د علیشې د غرونو په لوېدیځه لمن کې پرته ده، دا دره د چک د سیند څخه ګټه نشي تر لاسه کولای، د کرنې ټولې ځمکې یې د چینو او کاریزونو په اوبو خړوبیږي، همدا شان په دې دره کې د وردګو د قوم تر ټنګ زیاتره مسید، شیرانې، هیریپال، مروت، منګل او نور قومونه هم اوسیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


(وردگ: د نعمت الله رشیدي لیکنه) د دې سیمې مهم کلي:

جوز، جلیل، حسین کلا، پالیزک، څخه عبارت دي.

**۴- کوز خوات:**

دا سیمه د چک د سیند دواړو خواوو ته پرته ده، ښکلې، شنه او آباده سیمه ده.

ښې د کرنې ځمکې، ښکلي باغونه او راز، راز میوې لري.

د نورو غلو تر څنګ د پنډو، وریجو شولې هم په کې کرل کېږي.

د دې سیمې مهم کلي د زمان خیل، خلیلي، لوړ، مداد، ګلي، لاله خیل، نوره خیل او هزار باغ، څخه عبارت دي.

**۵ ـ منځنی خوات:**

دا سیمه هم د کوز خوات په شان د چک د سیند پر دواړو غاړو پرته، ښکلې شنه او آباده سیمه ده ښې غلې، دانې او ډول، ډول (رنګا رنګ) میوې لري، د چک د برېښنا فابریکه هم په همدې ځای کې شتون (موقیعت) لري، د پنه په سیمه کې دهغو شهید انو یاد ګاري ځلی هم شته چې د ۱۳۵۹ کال د روژې په قوه کې د شهید انو لست پرې لیکل شوی دی.

د چک ولسوالۍ مرکز او د چک د ولسوالۍ بازار هم په همدې سیمې کې شتون (موقعیت) لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د دې سیمې ځینې مهم کلي د بمبايي، علی همت، مدو، پنه، بابا کلا، چک، زرباغ....... څخه عبارت دي او جهادي شخصیت او نومیالی عالم استاد محمد یاسر د دې سیمې اوسېدونکي وو.

**۶- بر خوات:**

په دې سیمې کې مهم کلي د نوره خیل، کولک، قرباني، سپین ښور، علیشنګ... څخه عبارت دي.

شهید مامور عبدالباري فدایې شهادت: (۱۳۶۹ /۲/۹).

شهید جګړن عبدالحق، شهید جنرال عبدالعلي خان وردګ چې د کمونستانو په کودتاه کې د داؤد خان په طرفداری یوازینی جنرال ؤ چې تر شهادت پورې وجنګېد او په (۷ /۲/۱۳۵۷) کې په شهادت ورسېد، جنرال عبدالرحیم وردګ د پخواني حکومت (جمهوريت) د دفاع وزیر، د دې سیمې له اوسیدونکو څخه دي.

**۷- سیوکه:**

دا سیمه د چک او خوات له سیمې لوړه ده، په چپ لاس او د مسجد په خوله کې پرته ده، شکم پاره، دربند، کوتره، ابراهیم خیل د دې سیمې مشهور کلي دي.

**۸ - ګردن مسجد:**

دا سیمه د درې په بڼه د خوات څخه د جنوب غرب په لور پرته ده، د دې سیمې ځمکې د کاریزونو او چینو په اوبو، اوبه کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


له همدې سیمې د چک له ولسوالۍ د جغتو ولسوالۍ ته سړک اوښتی، همدا شان د سید آباد ولسوالۍ ته د غاښو له لارې پلې لارې اوښتې دي.

د دې درې مشهور کلي د مومد، قادر خیل، کچغو، ځلگرې، علیا تکه، برغسون، ملکیار خیل څخه، عبارت دي.

**۹- آبگزار**

دره مشک، میرکه، چینه، تر ممد، پای کوتل او سره کلا.

**۱۰ - د سیاب یا سه آب دره:**

(مفتومه، حکیم خیل، خوجگین، ټپور، قاضیان).

دا چې دا دره ولې په سه آب مشهوره ده لامل یې دا دی چې د کوډه، نیم پایقول، او د بغلان د درو اوبه دغه ځای ته راوتي (راوتلې) دي.

**۱۱ - د عربانو دره:**

گنیگر، بلاق، چارشونه، خواجه انگور، کنجغتو، ظریف خیل، خواجه احمد، نشکک، بغلان

**۱۲- نیم پایکول (نیک پایقول) دره:**

(چونې، فتح خیل، سرپوښ، شونیه، گلسینکه، او داسې نور...)

دا دره د عربانو په ښي اړخ کې پرته ده، د سیاب او گوډه د سرک څخه لار ورته ورگرځیدلې ده، دا دره د لوېدیځ په لورې پرته ده، د دې درې څخه یوه لاره دلخشک د غاښي څخه د جلگې ولسوالۍ د نازک خیلو سیمې ته اوښتې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د دې سيمې ځينې مشهور اشخاص: ابن امين، مستو خان.

**۱۳- د ګوډه دره:**

دغه دره د چک ولسوالۍ وروستی دره ده چې د چک د سيند په دواړو غاړو پراته کلي د همدې درې پورې اړه لري (مربوط دي)، دا دره د سياب څخه تر تنګي سيدان پورې غزېدلې ده، د چک د سيند له برکته ښې زراعتي ځمکې او ښکلي با غونه لري، د جلګې ولسوالۍ ته غزېدلی سړک په همدې درې کې تېرېږي.

عمر زي، آزاد خيل، ګوډه، کلالان، **نوبرجه (۹ برجه)**، برګه کلا، ابراهيم خيل د دې درې مشهور کلي دي، په دې درې کې د وردګو ترڅنګ نور پښتانه قومونه هم د ورور ګلوی په فضا کې ژوند کوي لکه اندړ، عمرزي، اورياخيل، دوراني (دراني)، هوتک، ابراهيم خيل، تره کي ...

**سپورت:**

په دغې ولسوالۍ کې خوسی، غېږ نيونه، تيږه اچونه، ژمی پر واوره يخمالک خوړل، چندرۍ، ګام اچول او منډه وهل يې دوديزې لوبې دي، چې له ډېر پخوا راهيسې دود دي؛ واليبال، فوټبال، کرکټ، تکواندو، جيدو، وزن پورته کول، د بدن ښکلا او ځينې نورې لوبې په رسمي بڼه په دغې ولسوالۍ کې مينه وال لري، خو په دې وروستيو کې کرکټ، فوټبال او واليبال لوبو ډېره وده کړې او مينه وال يې ډېر شوي دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا**

**..................................**

د دغو لوبو د ودې له پاره د شخصي کلبونو(کلپونو) تر څنګ، د دغه ولایت په مرکز کې د ترکیې ولایتي بیارغوني ډلې شاوخوا پنځه کاله مخکې یو پراخ لوبغالی جوړ کړ، چې هر وخت پکې لوبغاړي لوبې تر سره کوي.» (۱)



**د چک ولسوالی نه (۹) برجه کلا اوایی انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library


**نه برجه کلا:**

نه برجه کلا کلا په **ګوډه دري** کې شتون لری چې په پلان کې منظمه اته اړخيزه (اته ضلعي) ده او په هر اړخ (ضلعه) کې يې يو، يو اوچت برجونه لري.

يوه برج يې د کلا په منځ او د ننوتو دروازې ته مخامخ شتون لري.

دا فارم يا شکل د انجينرۍ لحاظه ډېر غښتلی او قوی فارم دی چې د زلزلې په مقابل کې خورا مقاومت لري.

**د کلا لنډه تاريخچه:**

دا کلا په ۱۲۳۰ هجري قمري کال کې پيل شوې او په ۱۲۳۴ هجري قمري کال يانې د څلورو کالونو په موده کې بشپړه شوې ده او د ښاغلي حاجي عبدالوهاب چې د کلی يو تن اوسېدونکي او مشرانو له جملې څخه دی، په وينا کېدای شي دا کلا د امير دوست محمد خان يا د امير شېرعلی خان په وختونو کې جوړه شوې وي او د کلا ټول مصرف يې د هغه وخت په ۱۷۰۰۰ (اوولس زرو) روپيو باندې جوړه شوې يا پرې لګېدلي (مصرف) شوي دي.

په دې کلا کې ۵۰ کورونه شتون درلود چې د دېوالو سره جوښت او شاو خوا جوړ شوې وو، په منځ کې يې بله (جلا) کلا او يو برج شتون درلود چې تر اوسه هم تر سترګو کېږي، خو د وخت په تېرېدو او د روسانو پر يرغل وخت کې دا کلا ۷ ځله بمباران شوې او خلک يې

(c) ketabton.com: The Digital Library


مجبوره شوي د کلا نه د باندې کورنه جوړ او یا هم ګاونډ هېوادو ته هجرت وکړي.

**د کلا اړخ برجونه:**

د کلا اړخ برجونه ټول په پلان کې اته اړخه (اته ضلعي) دي او د پخسې څخه جوړ شوې دي.

دا برجونه په لید کې درې پوړیزه ښکاري چې د هر پوړ په سر کې تیرکشونه ښکاري او د جګړو په وخت کې ترې کار اخیستل شوی یا هم د کار اخیستنې یا دفاع له پاره په پام کې نیول شوي دي، دا تیر کشونه د لمړي پوړ په هر اړخ کې یوه او د دېوال په منځ کې شتون لري.

د یادو برجونو یوه برخه یې د کلا د ننه خوا او ډېره برخه یې د کلا نه د باندې په هر کنج کې، پام کې نیول شوې او شتون لري چې په لاندې انځورونو (تصویرونو) کې یې په ښې توګې لیدلی شوو.

د دې برجونو زینې څو مارشونه لري، چې په لمړی مارش کې ۶ پټې زینې او د زینې لوړوالي (خیز) یې ۵۵ سانتی متره، په دوهیم مارش او دوهیم پوړ (منزل) کې ۶ پټې زینې چې د هرې پټې لوړوالی یې ۵۰ سانتي متره دي.

همدا راز د دریم مارش او یا دریم پوړ هم ۶ پټې زینې لرې چې د هر پټې لوړوالی یې ۵۰ سانتي متره دي.

دا زینه د دوو پخسو په منځ کې په دوراني (حلقوي) توګې جوړه شوې او تر اوسه هم شتون لري چې سور(سیور یا بر) یوه متر ته، رسیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

........................................

د هر برج داخلی قطر په لمړي پوړ (منزل) کې ۱۰،۵ متره او په پورته کېده سره دا قطر لږ کیږي.



د نه (۹) برجه کلا د یوه برج انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

..................................



د نه (۹) برجه کلا د یوه برج انځور

برجونه ټول د ننه خواوو نه لارې لري کوم چې لاره یې تر دوو مترو پورې لوړوالی لري، د دې لارو سور یا بر یې د یوه متره لوی دي.
د ننوتو ځایونو د پاسه غټو لرګیو سر تاقونه (سرطاقونه) لري کوم چې په یوه سر تیر اېښودل شوي او ۲۰ (شل) سانتي نور یې د برجونو دېوالونو ته ننوتي دي.

دا سر تیرونه پر درېوو ستنو او یا پایو باندې داسې کلک شوي چې یوه ستنه یې په یوه سر، بله یې په بل سر او یوه یې د دواړو ستنو تر منځ شتون لري.

دا یادی ستنې پر لاندې دوو تیرانو باندې داسې کلکې شوي چې د لاندنی دواړو تیرانو په منځ کې شتون لري کوم چې په بر اېښودل شوي او دېوال کې د کندې په شان کلکې شوې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library
**د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا**

**.......................................**

دا لرګي یا لرګې کندي کېدای شي د هرې ستنې یا تیر لاندې هم شتون ولري.

د ننوتو لارې په پیل کې ډېره ساده دروازه تر سترګو کېږي، چې کېدای شي دا دروازه وروسته د برج ختو او د ماشومانو لوبدو مخنوي له پاره په پام کې نیول شوي وي، کومو ته چې  د پخوانیو غوړیو ټیمانو برخې ټکوهل شوې یا کلکې شوې دي.



**د برج ختو دروازې ننوتو برخې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا**

**.....................................**



**د برج ختو دروازې پورتنۍ برخې انځور**

د یادې دروازې یوه خوا یې زلفي او ځنځیر او بله خوا یې ولاړ لرګی چې لاندنۍ اوپاسنۍ برخه یې په لرګیو کندو کې ننوتي او د چپراست کار ورکوي، تر سترګو کېږي.

د یادو ننوتو ځایونو لاندنۍ او پاسنۍ برخو کې درزونه لیدل کېږي کوم چې وروسته د نه پاملرنې له عمله مینځ ته راغلي وي.

د ننوتو په منځنۍ او د پاسه یې یوه تیرکش هم لیدل کېږي، مګر په لاندنۍ برخې کې یې کومه زینه نه ښکاري او کېداشي د اړتیا په وخت کې، لرګي زینو نه کار اخیستل کېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

........................................



د نه (۹) برجه کلا د داخلي برج ننوتو دروازې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

.....................................



د کلا یوه برج ته د ننوتو انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

........................................



د کلا یوه برج د لاندې نه پاس (بر) د زینو انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا**

**......................................**



**د کلا یوه برج د پاس (بر) نه د زینو انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا**

**.......................................**



**د کلا یوه برج د پاس (بر) نه د زینو انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا**

**....................................**

د برجونو د پخسي سور(سيور يا بر) په لمړي پوړ (منزل) کې ۳ متره ، په دوهیم پوړ کې ۲ متره، درېیم پوړ کې ۱،۳ متره او په پای کې ۰،۶۵ مترو ( ۶۵سانتیو) ته رسیږي.

د پخسي لمړی کتار لوړوږالی ۷۰ سانتی متره بیا نور کتارونه یې د پخسي اصولو سره سم جوړه شوې او تر اوسه هم شتون لری.

د پخسي خاوره یې خړه او د باندې خواوو نه د پاسه یې کوم اخیر نښې نښانې نه په سترګو کیږي.

د دې برج په دوهیم پوړ کې د کړکیو ځایونه په سترګو کیږي کومې چې په پخوا پیر کې شتون درلود او د وخت په تېرېدو او په سیمې کې د جګړو له امله (عمله) ورانې یا تالا شوې دي.

دا کړکۍ د یوه اړخ تر منځه ښکاري او داسې معلومیږي چې په یواځې د برج په څلورو اړخونو کې شتون لري.
دا کړکي د څلورو مقاصدو له پاره، په پام کې نیول شوې دي.

۱. د لمر د ننوتو په موخه
۲. د رڼا د ننوتو په موخه
۳. د اوا (هوا) تبادلي په موخه
۴. د باندې لید په هکله

په درېیم پوړ کې یواځې د بام دېوالونه ښکاري کوم کې چې ډېر تیرکشونه ښکاري، دا تیر کشونه په اړخونو کې توپیر( فرق) لري چې په ځینو اړخونو کې درې او په ځینو کې دوې تیرکشه په سترګو کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا**

**......................................**

دا برجونه ټول د ننه خواوو نه، لاره لري چي په پخوا پير کي يې لرګي دروازې درلودي خو اوس محال دروازې يې نه په سترګو کيږي يواځې سرتاکونه ( سرطاقونه) او د اړخ دروازو کندې ځايونه تر سترګو کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

.......................................




د نه (۹) برجه کلا د یوه برج انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا**

**......................................**



**د نه (۹) برجه کلا د یوه برج انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

.....................................



د نه برکلا د یوه تیرکش انځور

**د کلا منځ کې بله کلا او بل برج (نهم برج):**

د منځ کلا، چې په حرم سرای یادېږي د لویې کلا په منځ کې شتون لري چې اوږوالی یې ۳۵ متره او سور(سیور یا بر) یې هم ۳۵ متره دی.


د دې کلا یا حرم سرای د دېوالو بر یې په لمړیو کتارونو کې ۰,۸ متره (۸۰ سانتۍ) او د هرې پخسې کتار لوړوالي یې ۰,۶ متره (۶۰ سانتۍ) دی.

د کلا په یوه اړخ کي یاني د ننوتو لویې دروازې ته مخامخ، لوی برج شتون لري، دا برج د کلا نورو برجونو سره ډېر توپیر لري، چې د باندی شکل یا فارم یې ۱۳ اړخه (دیارلس ضلعي) چې د دایرې شعاع یې ۶,۰۷۵ متره او د هر اړخ سور(سیور یا بر) یې ۳ متره دی، چې په مرکزی برج هم یادېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا**

**.....................................**




**د برج شعاع او شکل د انجینرۍ په پروګرام کې**

دا برج په ۶ مترو لوړوالي (ارتفاع) کې لمړی مرچل (مورچل) ، په ۹ مترو لوړالي کې دوېیم مرچل او په نور لوړو کې، نور مرچلونه هم لیدل کیږي.

دا برج په لمړي پوړ کې ۱۰ پته (خیزه) زینې، په دوېیم پوړ کې ۱۲ پته (خیزه)، په درېیم پوړ کې ۸ پته (خیزه ) او په څلورم پوړکې هم ۸ پته (خیزه) زینې لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

.....................................



د کلا د ننه برج یوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

.......................................



د کلا د ننه د برج یوې برخې انځور



د کلا د ننه برج یوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

.......................................



د کلا د ننه برج یوې برخې انځور



د کلا د ننه د برج یوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

.....................................

**لویه کلا:**

که چېرې مونږ لویې کلا ته د ننه شو، د شړېدلو او پاتې شویودېوالونو نه داسې ښکاري چې د کلا د ننه شاوخوا کوشنۍ نورې حوېلۍ چې د کسب ګرو لکه:

ناحي (ناحيې، سلمان یا دلاک)، تټار(مسګر)، موسلي او کروند ګرو له پاره جوړې شوې وي.



**د لویې کلا د ننه یوې برخې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

........................................



د لويي کلا د ننه يوې برخې انځور



د لويي کلا د ننه يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

......................................



د لويې کلا د ننه يوې برخې انځور



د لويې کلا د ننه يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

.....................................



د لويي کلا د ننه يوې برخې انځور



د لويي کلا د ننه يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

........................................



د لويې کلا د ننه يوې برخې انځور



د لويې کلا د ننه يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

........................................



د لويي کلا د ننه يوې برخي انځور



د لويي کلا د ننه يوې برخي انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

........................................



د لويې کلا د ننه يوې برخې انځور



د لويې کلا د ننه يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

.....................................



د لويي کلا د ننه يوې برخې انځور



د لويي کلا د ننه يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

.....................................



د لويې کلا د ننه يوې برخې انځور

کيدای شي په کلا کې جنګياليو هم کورونه درلودل او د جګړې په وخت کې به يې کلا بندوه، په خپله به برجونو ته ختل او د هغه ځايه به يې پر دښمن غشي ويشتل.

خو د تيرکشو نه داسې ښکاري چې هغوی پخواني زاړه ټوپک هم درلودل او د هغه ځايونو نه به يې پر دشمن، ډزې کوې.

د کلا دېوالونو بر (سور، سيور) خورا ډېر او ۳ درې مترو ته رسيږي چې لوړوالی (جګوالی، اوچت والی) يې ۱۰ مترو ته رسيږي (اټکل کېدای شي).

د دېوالونو لاندنۍ برخه يې خورا برداره (سور داره) او پورتنۍ برخه يې د پخسې په تناسب يا فورمول سره کميږي (لږيږي).

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا**

**....................................**

د کلا د دېوالونو او برجونو په تاداونو(تهدابونو،غرقې او کرسي) کې کلوله سیند ډبره کارول شوې چې د ځمکې نه د باندې اندازه یې تر۲۰ (شلو) او په ځینو ځایونو کې تر ۳۰ (دېرشو) سانتیو پورې په سترګو کېږي.

بیا د تهداب ډبرکاریو نه وروسته (پر سر)، پخسه پیل کېږي، کومه چې ډېره کلکه او پخه ښکاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

........................................



**د یوه برج څخه د کلا انځور**

د پخسې په لیډ کې درزونه (چاودونه) نه په سترګو کیږی او داسې ښکاري چې دا پخسه په ښې توګې پخه شوې او د ماهرو کاریګرو له خوا تر سره شوې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا**

.....................................

د برجونو لوړوالی ۱۵ متره ښکارې او کېدای شي پخوا تر دې هم لوړ وو، د وخت په تېرېدو سره ځینې لوړې برخې يې شړېدلي او لاندې غورزېدلي وي.

د برجونه په آخرو کتارونو کې وتي یا وتلي لرګي هم په سترګو کيږي کوم چې د کوشنيو کړکيو لاندې او کېدای شي د دغو لرګيو د پاسه د ټوپک میل ايښودو له پاره، په پام کې نيول شوي وي.

دا ځکه د هغه وخت ټوپکو ميلونه خورا اوږده او کيڼ لاس کې نيونه يې هم، ستوزمنه وه.

په دېوالونو کې ځينې سوري ښکاري چې په يادو سوريو کې پخوا د لرګيو ناوو ځايونه وو (ول) او د وخت په تېرېدو، جګړو او د خلکو نه اوسېدو په وخت کې، لوټ شوي او يا هم له منځه تللی دي.

يادې ناوې ټولې د کلا نه د باندې په پام کې نيول شوي تر څو د بارانونو اوبه کلا نه د باندې تويې شي او د ننه غولو(انګړونو) کې ختې او ډنډونه را منځ ته، نه کړي.

په کلا کې داسې کوشني لښتي تر سترګو کيږي کوم چې د غولو (انګړونو) او کلا د ننه باران، لوښو مينځلو، کالي مينځلو اوبه په کې بهيږي او په يوه يا دووځايونو کې د چورن نه وروسته، کلا نه د باندې وځي او نورو کوشنيو او لويو بيالو سره يوه ځای کيږي.

**تاخچې (طاقچې)**

په کوټو کې د ننه دوې ډوله او دوې کتاره (قطاره) تاخچې په سترګو کيږی چې په څلورو خواوو شتون لرې، لمړی کتار د لوښوو ايښودلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا**

**.........................................**

د پاره په پام کې نیول شوي او دوېیم کتار سر بېره د بنکلا شیانو تر څنګ کړکۍ د روښنایي او اوا(هوا) د تبادلې له پاره هم په پام کې نیول شوې وي.

ځیني تاخچې زینتی یانې ګنګوره لرونکي او ځینې نور یې بیا ساده او کمان لرونکي دي.

د لمړي کتار تاخچې لوړوالی تر دوېیم کتاره لوړې او ژورې دي.

د تاخچو لمړي کتار د پاسه رپک لیدل کېږي کوم چې تاخچې یوه کتار د بل نه جلا کوي او هم دېوال ته بنکلا ور په برخه کوي.



**د کوټو د ننه تاخچو (طاقچو) انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library
# د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

......................................



د کوټو د ننه تاخچو(طاقچو) انځور



د کوټو د ننه تاخچو (طاقچو) انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کوټو د ننه تاخچو (طاقچو) انځور


د کوټو د ننه تاخچو (طاقچو) انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

......................................



د کوټو د ننه تاخچو (طاقچو) انځور



د کوټو د ننه تاخچو (طاقچو) انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کوټو د ننه تاخچو (طاقچو) انځور


د کوټو د ننه تاخچو (طاقچو) انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا**

**.......................................**



**د کوټو د ننه تاخچو (طاقچو) انځور**



**د کوټو د ننه تاخچو (طاقچو) انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

.....................................



د کوټو د ننه تاخچو (طاقچو) انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا**

**.......................................**



**د کوټو د ننه تاخچو (طاقچو) انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا**

**.......................................**



**د کوټو د ننه تاخچو (طاقچو) انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا**

**........................................**



**د کوټو د ننه تاخچو (طاقچو) انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د کوټو د ننه تاخچو (طاقچو) انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library




د کوټو د ننه تاخچو (طاقچو) انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

......................................



د کوټو د ننه تاخچو (طاقچو) انځور، کومې چې کړکۍ لري

(c) ketabton.com: The Digital Library




د کوټو د ننه تاخچو (طاقچو) انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

.......................................



د کوټو د ننه تاخچو (طاقچو) انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library


**د کلا لویه دروازه:**

دا دروازه چې اوچت والی يې ۳,۲ متره (۳۲۰ سانتي متره) د چوکاټ سره او بر (سور یا سیور) يې ۳ (۳۰۰ سانتي متره) مترو ته رسیږی چې د دوو پلو یا ترازو څخه داسې جوړې شوي چې د هرې پلې (ترازې) سیور یا بر يې ۱,۵ متره (۱۵۰ سانتي متره) د چوکاټ سره دي چې یوه يې پوزه (بینیچه) او بله يې بې پوزې ده.

د دروازي یوه برخه يې کومه چې بې پوزې ده د ورځي له خوا خلاصه او دوېیمه پله يې کېدای شي د اړتیا په وخت کې خلاصه او ترې کار واخیستل شي.
دا دروازه د لرګیو غټ چوکاټ لري چې د پاس خوا نه په لرګیو سر تاق، اړخ خواوو نه په کندو کې کلکه شوې ده.



د کلا د ننوتو لويې دروازې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

.....................................



د کلا د ننوتو لويې دروازې انځور



د کلا د ننوتو لويې دروازې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

......................................



د کلا د ننوتو لويې دروازې انځور



د کلا د ننوتو لويې دروازې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

......................................



**د کلا د ننوتو لويې دروازې ته مخامخ برج انځور**

دروازې پلې د لرګيو تختو څخه داسی جوړې شوي چې تختي خوا په خوا اېښودل شوي او د څټ (شا) خوا نه غټ لرګي او د مخي خواوو نه د اوسپني پټې چي په منځ کې يې ګل مېخونه کارېدلي، کلکې شوې دي.

هر پله له څلورو (۴) ولاړو ډبلو تختو نه جوړه شوې او په لنډو کې يې د اوسپنې ۶ (شپږ) پټلۍ چې په هرې پټلي کې۵ (پنځه) ګل مېخونه چې د تختو په منځ کې شتون لري، کارېدي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




د لويې دروازې يوې برخې انځور

د دروازې هره پله په لاندنۍ برخې کې يوه ځنځير لري چې يوه سر يې د دروازې په پلې او بل سر يې د دروازې په چوکاټ کې کلک شوی دی.

دا ځنځير د دروازې پله نه پرېږدي چې د خلاصولو (خلاصېدو) په وخت کې پر دېوال ولږېږي، چې په اوسنی معمارۍ او انګرېزي ژبې کې ورته، ډور سټاپر(Door Stopper) وايي.

دا دروازه چپراسټ نه لري او د چپراسټ په عوض يې يوه باندنی او کښتنې برخې يې لوله شوي لرګي لري کوم چې دروازې پلې سره د اوسپنيزو دوو پټليو سره کلکې شوې دي، دا د پورتني او ښکتني چوکاټ په سوريو کې حرکت کوي، د وضاحت له پاره لاندينی انځورونه، اړين بولم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

......................................



د دروازې پلې پورتنی لوله لرګی انځور



د دروازې کښتینی برخې، نیونکی زنځیر (ډور سټاپر) انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

........................................



د نه (۹) برجه کلا د ننوتو لوې دروازې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا دروازه دوې سرتاکه (سرتاق یا سرطاق) لرى کوم چې پر دوو برخو وېشل شوي دي، لمړنۍ برخې کې یې دروازې چوکاټ کلک شوى او دوېیمه برخه سرتاک (سرتاق یا سرطاق) یې لږ اوچت او په دېوال کې یې پخسې کمانونه (ارچونه) کارېدلي او بیا اخېږ شوې دي چې اندازه یې تر یوه متره پورې رسېږي.
د دوو کمانونو تر منځ ولاړ، نري سوري ښکاري او کېداى شي د تیر کشونو په شان، د نظامي اهدافو په خاطر په پام کې نیول شوي وي.



**دروازې د پاسه کمانونو او سوریو انځور**

یاد کمانونه یا آرچونه د دروازې د سرتاک (سرتاق یا سرطاق) پر سر جوړ شوې دي، مګر دوېیم سرتاک (سرتاق یا سرطاق) د

(c) ketabton.com: The Digital Library
**د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا**

**......................................**

کمانونو مخ او د سرتاکونو په اوارۍ (لېول) او د باندې خوا، په پام کې نیول شوي دي.

کېدای شي دا پوښښ د مېلمنو او کلي اوسېدونوکو له پاره د لمر او ورښت ورېدو له پاره په پام کې نیول شوې وي، کوم چې د ودرېدو او د ننوتو په انتظار کې وي، تر څو دروازه خلاصه او یا د لیدو کس مخې ته راشي.

مګر د ښاغلی حاجي عبدالوهاب په وینا دا برخه د دې له پاره جوړه شوې وه چې د پاسه يې د اوبو ډکې کټوې ایښودل کېدې او د جګړو په وخت کې، که چېرې دښمنانو(غلیمانو) د کلا دروازې ته اور اچاوه د هغو کټوو د اوبو په شیندلو سره به يې د دروازې اور، مړاوه.

سرتاکونو لرګیو د چاودو نو نه، داسې ښکاري چې دا او نور د پو ښښونو(چتونه، پوشش) لرګي ټول د چنارو ونو نه وي.

مګر د دروازو پلو(ترازو) لرګی نه داسې ښکاري چې ګواکی د ارچه یا توت لرګیو څخه جوړې شوې وي.

د دروازې د پاسه یوه لیکلې ډبره ښکاري چې لوستل يې د لاندې خوا نه، ستوزمنه ده او د زینو په ایښودو او د نږدې نه کېدای شي ولوستل شي چې د لرې خوا نه د شعر په توګه (شکل) ښکاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

......................................



**د دروازې د پاسه لیکل شوې ډبرې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

.......................................



د دروازې د پاسه لیکل شوې ډبرې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

.......................................

د دروازې سرتاکونه (سرتاقونه) خورا پلن دي، یادې دروازې د ننه خوا ته خلاصیږي، کومې چې د خلاصېدو په وخت کې د وربنت وریدو نه، په امان کې دي.



**د دروازې سرتاک (سرتاق) انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

........................................



د نه (۹) برجه کلا د ننوتو لوې دروازې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

.........................................



د نه (۹) برجه کلا د ننوتو لوې دروازې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

.........................................



د نه (۹) برجه کلا د ننوتو لوې دروازې لارې انځور



د نه (۹) برجه کلا د ننوتو لوې دروازې لارې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

.......................................



د نه (۹) برجه کلا د ننوتو لوې دروازې لارې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library


**حمامونه:**

حمامونه د لویې کلا په منځ او منځنۍ کلا اړخ کې شتون لري، دا ودانۍ یوه پوړې ده چې دېوالونه او چتونه یې د پخو خښتو څخه جوړ شوي دي.

د ودانۍ ننوتو ځایونه ټول د کمان (آرچ) په شان دي مګر چتونه یې ټول ګنبدي دي، چې وروسته له ګنبد جوړېدو څخه بیا د خاورو په ذریعه (واسطه) ډک، اوار شوي او بیا اخېړ شوي دي.

د حمام په دېوالوکې تاخچې (تاقچې) هم په سترګو کېږي چې کېدای شي د حمام د ځینو اسبابونو(وسایلو) کښېښودلو له پاره په پام کې نیول شوي وي.
دا حمام د سړو او تودو اوبو مټونه (پاخه ختین دېګي) درلودل کوم چې د پخو ختو بلولونو(پایپونو) په ذریعه یې جریان درلود، د یاد وړ ده چې د تودو اوبو مټ (دیګي) د باندې خوا نه د اور بلېدو (روښانه کېدو) ځای درلود چې په کې خس او لرګي استعمال کېدل.



**د نه (۹) برجه کلا د حمام ودانۍ انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

..................................



د نه (۹) برجه کلا د حمام ودانۍ انځور

د دېوالونو بر(سيور يا سور) يې څلويښت سانتي، مګر په ځينو ځايونو کې تر څلوېښتو هم ډېر دي.

د دېوالونو باندې خواوي اخېړ (کاه ګل) شوې ، مګر د ننه خوا وې وروسته تر اخېړه سينګل شوې او بيا په سپينې خاوري سپين شوي کوم چې د اوبو او د اوبو بخار (تفت) په مقابل کې کلک (سخت) مقاومت لري.

د وخت په تېرېدو او نه پاملرني له کبله ۹۰ سلنه چتونه او دېوالونه يې نړېدلي، خښتې او خاورې يې د ننه او د باندې تر سترګو کيږي.

په اوس وخت کې تاخچې تورې شوي او کېداى شي د نه اوسېد له امله (عمله)، ځينو کسانو، تېرېدونکو، ليدونکو او يا مخدره تو کو استعمالونکو له خوا د اور په بلېدو سره تورې شوې وي او په لاندني انځور کې په ښې توګې، تر سره کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

......................................



د نه (۹) برجه کلا د حمام داخلي انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

.......................................



د نه (۹) برجه کلا د حمام داخلي انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

.......................................



د نه (۹) برجه کلا د حمام داخلي انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





د نه (۹) برجه کلا د حمام داخلي انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

........................................



د نه (۹) برجه کلا د حمام داخلي انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

.......................................



د نه (۹) برجه کلا د حمام داخلي انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

......................................



د نه (۹) برجه کلا د حمام داخلي انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

......................................



د نه (۹) برجه کلا د حمام داخلي انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

......................................



د نه (۹) برجه کلا د حمام داخلي انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

........................................



د نه (۹) برجه کلا د حمام داخلي انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

........................................



د نه (۹) برجه کلا د حمام داخلي انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

......................................




د نه (۹) برجه کلا د حمام داخلي انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

......................................



د نه (۹) برجه کلا د حمام داخلي انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library




د نه (۹) برجه کلا د حمام داخلي انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

.......................................



د نه (۹) برجه کلا د حمام داخلي انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library




د نه (۹) برجه کلا د حمام داخلي انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

.....................................



د نه (۹) برجه کلا د حمام باندی انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

..........................................



د نه (۹) برجه کلا د حمام باندی انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

.......................................



د نه (۹) برجه کلا د حمام باندی انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

..................................



د نه (۹) برجه کلا د حمام باندی انځور

د حمام په یوې برخې (کنج) کې چې د دېوال پورتنۍ او چټ پورې اړه لري، نخشونه (نقشونه یا تزینات) تر سترګو کېږي کوم کې چې د شین (زرغون)، سور او سپین رنګونه، کارېدلي دي.

دا نخشونه منظم هندسی دي چې مربع، لوزي په شان کارېدلي او بیا په منځ کې بوټي او ګلان ښکاري.

که مونږ هنري کارونو ته وګورو داسې ویل شو چې اصلاً تور رنګ په بوټو کې نه دی کارول شوی، بلکې دا رنګ تیاره زرغون (شین)

(c) ketabton.com: The Digital Library


رنګ دی، د وخت په تېرېدو او د خلکو د اور بلېدو او دود په ذریعه تور رنګ ته اوښتی یا هم دود پرې ناست وي.

څرنګه چې یاد (ذکر) شو، د بامونو او دېوالونو ډېری برخې یې نړېدلی دي د ننه انځورونو پر مخ د بام اوبه کومې چې د ختو سره یوځای، پر انځورونو بهېدلې او یا کښته شوي، د انځورونو پر مخ ناستی او د هغه ښکلا یې د منځه وړې ده.

د اوبو کلالي (ختو پخشوي) نلونه یا پایپونه یې ډېر لږ تر سترګو کېږی او ځینې نور یې د سیمو خلکو له خوا وړل شوي او د بامونو د ناوو په ټوګه کارېدلي (استعمال) شوي یا ترې کار اخلي.

همدا راز د دې حمام پر خښتو هم د سیمې شته خلکو یرغل کړی او څه اندازه (برخه) یې له ځانه سره وړې ده.
چې له خښتو نه یې د بام په خرندونو او پراپټونو کې ترې کار اخیستی دی.
په حمام کې دوې ډوله خښتې کارېدلي چې اندازې یې په لاندې ډول دي.

لمړی ډول خښته:

۱. اوږدوالی ۲۰ سانتي متره
۲. سیور یا بر یې ۲۰ سانتي متره
۳. اوچت والی (ضخامت) یې ۵ سانتي متره

(c) ketabton.com: The Digital Library


دوپیمه ډول خښته:

۱. اوږدوالی ۲۰ سانتی متره
۲. سیور یا بر یې ۱۰ سانتی متره
۳. اوچت والی(ضخامت) یې ۵ سانتي متره

د دې خښتو اندازو نه داسې ښکاري چې معمار نه غوښتل یوه خښته پر دوو حصو و وېشي یا ماته کړي.

**کلا دېوالونو لاندنۍ برخه:**

کلا دېوالونو لاندنۍ برخه کومه چې د ډبرو کار (سنګ کارۍ) پر سره ده، د وخت په تېرېدو سره شړېدلې او بیا وروسته ځینې ځایونه یې د پخسې او ځینې نور ځایونه یې د اومه (خامو) خښتو څخه ډک شوې او په آسانۍ سره، تر سترګو کېږي.
د دې دېوالونو شړېدلو برخو لوړوالی یې تر یوه متر پورې رسېږي کوم چې کېدای شي د موږکانو (موږو) سوریو او د وربښت نیغ (مستقیم) تماس له کبله منځ ته راغلي وي.
د کلا اوبرجونو دېوالونو کې ولاړ یا عمودي درزونه هم په سترګو کېږي چې کېدای د زلزلو او یا هم د دېوالونو ناستې (نشست) په ذریعه (واسطه) منځ ته راغلی وي.
دا درزونه، تاداوو ته (تهدابو ته) نږدې غټ (لوي یا برداره) او ځومره چې پاس ځي، کوشني کېږی چې د ځینیو تدابیرو په پام کې نیولو سره کولای شوو د پخوانیو درزونو تحکیمات وکړو او د نویو درزونو مخه په آسانۍ سره ونیسو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

......................................



**د نه (۹) برجه کلا د شړېدلو دېوالونو انځور**

## د کلا نه باندې ودانۍ:

د خلکو او خاصتاً د سپین ږیرو خلکو په وینا، پخوا پیر(وخت) کې نورې ودانۍ هم شتون درلود لکه:

۱. اوښانو غوجل

۲. د اسانو غوجل

۳. د غویانو غوجل

۴. د مالونو ساتونکو اوسېدو ځایونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

.......................................




کلا نه باندې کوشنيو ارتباطي کلا ګانو اوايی انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

......................................




کلا نه باندې کوشنیو ارتباطي کلا ګانو نخشه (نقشه)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

.....................................



**کلا نه باندې کوشنيو ارتباطي کلا ګانو نخشه (نقشه)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

......................................



د کلا نه د باندې د نه برجه کلا انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library


**سرچینه:**

**۱-**

**۱B%۸D%۸۸%۹https://ps.wikipedia.org/wiki/%D**
**٤A%۸D%۸٤%۹D%۸۸%۹AF%DA%AB_%D%۸D%**
**AA%۸A%D۸%۹D%**

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د چاپ شویو کتابونو لیست

١. معماری افغانستان
٢. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش شفاخانه ها)
٣. راهنمود طلايي
(برای اساتید انستیتوت های تخنیکي و ساختمانی افغانستان)
٤. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد اول
٥. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد دوم
٦. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش اداری)
٧. معماری اصیل شهر کابل (مرادخانی)
٨. معماری شهر کابل (بی بی مهرو)
٩. افغانستان در قرن تکنالوژی
١٠. زونبندی اقلیم و زلزله افغانستان
١١. صدقه جاریه / دنیای انجینری
١٢. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد اول (١٩٩٠ الی ٢٠٢١)
١٣. داستان حقیقی با مقیاس معماری
١٤. فرار از کشور- با تصاویر مستند
١٥. نقش دانشمندان مسلمان در فن معماری و مهندسی
١٦. پخسه در افغانستان
١٧. بنیا نگذاری اولین مساجد توسط افغانها در آسترلیا
١٨. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد دوم (١٩٩٠ الی ٢٠٢١)

(c) ketabton.com: The Digital Library


۱۹. منار جام - الهامی برای قطب منار
۲۰. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد سوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۲۱. جام یا کلیان ( کلان)
۲۲. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد اول
۲۳. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد دوم
۲٤. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد سوم
۲۵. چېر ته چې قانون نه شته (ګډوډي د افغانستان په معمارۍ کې)
۲٦. مډرنه جوما تونه ,, پخوا او نن ،،
۲۷. هله جور کو (نی پخسه – مقاوم زلزله)
۲۸. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مساجد)
۲۹. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مکاتب)
۳۰. هنر و صنعت چوب در مرادخانی
۳۱. هنر و پیشه حکاکې - زرگری در مرادخانی
۳۲. هیچ (چهل داستان واقعی)
۳۳. معماری اصیل شهر کابل
(تشریح مورخ ۱۷ ماه میزان سال ۱۴۰۱ پوهنتون پولی تخنیک کابل)
۳٤. ۴۰- چهل
۳۵. مجنون او ګلچین (پښتو ناول)
۳٦. در جستجو (ناول به زبان دری)
۳۷. تفاوت ها تفاوت می آورد (کتاب تصویری)
۳۸. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد اول)

(c) ketabton.com: The Digital Library


٣٩. برف ها آب میشود
٤٠. رسم و تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد سوم
٤١. آرزو و امید (ناول به زبان دری)
٤٢. بوډا ښکاري (پښتو ناول)
٤٣. نامنوني ژوي (پښتو ناول)
٤٤. د اسلامي معمارۍ پیل
٤٥. حیوانات شوخ ( ناول به زبان دری)
٤٦. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد دوم)
٤٧. د شپیلۍ مینه (مه ینه) په کچه ګړۍ کې (پښتو ناول)
٤٨. حشمت خان د کلا معماري
٤٩. د افغان الک او آذري جلۍ مینه (پښتو ناول)
٥٠. د وچو بنونه او پارکونو معماري
٥١. د یوې ښونکې مینان په یوه ټولګي کې (پښتو ناول)
٥٢. د ژرنده ګړي ماما مینه (پښتو ناول)
٥٣. په اسلامي نظام کې ودانیز پرمختګ
٥٤. شپنه ادې (پښتو ناول)
٥٥. بې زده کړې پوی (پښتو ناول)
٥٦. د مینې تاو (پښتو ناول)
٥٧. (BIM) په خپله ژبه - په نړۍ کې تر ټولو نوې او ګړندۍ کړنلاره د معمارانو او اینجینیرانو(انجینرانو) له پاره
٥٨. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد سوم)
٥٩. سیدو او عیدو - د کوشنیوالي خواږه ملګري (پښتو ناول)
٦٠. د یوې میاشتې ناوې (پښتو ناول)
٦١. دخاځکو هار (د یوه سړی لنډې کیسې)

(c) ketabton.com: The Digital Library


٦٢. د کابل ښار اصلي معماري (مراد خانی)
٦٣. کوشنۍ سوداګره (پښتو ناول)
٦٤. د کابل ښار معماري - بي بي مهرو
٦٥. سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري
٦٦. ډارونکی سېلاب ( پښتو ناول)
٦٧. خواریکښ قاضي (پښتو ناول)
٦٨. د پخوانیو جوماتونو توپیر د نن سره
٦٩. د مور وژونکی (قاتل)، (پښتو ناول)
٧٠. د مور مېړه (پښتو ناول)
٧١. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد چهارم)
٧٢. لېونی ملا (پښتو ناول)
٧٣. ځوان شهید (پښتو ناول)
٧٤. توده برستن (پښتو ناول)
٧٥. نورک اکا (پښتو ناول)
٧٦. غریبک (پښتو ناول)
٧٧. د ژوند خوږې او ترخې (پښتو ناول)
٧٨. الماء [دیارلس کلنه فلسطینی انجلی تر نړیدلي ودانی (پښتو ناول)]
٧٩. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد پنجم)
٨٠. ادبي لښتي / چوب ادبی
٨١. د ښاروالی کاریګر (پښتو ناول)
٨٢. د خاورو لاندي ښار (د عینک مسو کان ته څېرمه)
٨٣. شهری زیر خاک (نزدیک معدن مس عینک)
٨٤. ساختمان های کانتینری
٨٥. کانتینري ودانی

(c) ketabton.com: The Digital Library


۸٦. Architecture of Buddist temple in Kabul city
۸۷. ښکلې هوسۍ (پښتو کیسه)
۸۸. خړه بیزو(پښتو کیسه)
۸۹. سور تنور(پښتو ناول)
۹۰. سپین کارغه (پښتو داستان)
۹۱. لېونی لېوه (پښتو داستان)
۹۲. بندي مرغه (پښتو داستان)
۹۳. بې وخته سېلاب (پښتو ناول)
۹٤. ملا نصرالدین سره د دوکې پایله (پښتو ناول)
۹٥. د یوی بهلول غوره پرېکړه (پښتو داستان)
۹٦. د کابل ښار لمړي ګمرک اداري ودانۍ معماري
۹۷. ناکامه مینه (پښتو ناول)
۹۸. سنګلاخ دره او معماري
۹۹. عشق در کانتینر ها (ناول به زبان دری)
۱۰۰. مادل اندازه گیری اسلامی
۱۰۱. په ګاونډ هیواد کې زړه بایلل (پښتو ناول)
۱۰۲. بازی ها وسپورت های محلی مردم افغانستان - جلد اول
۱۰۳. منار های غزنی – گذشته و حال
۱۰٤. تورې چشمې (عینکې)پښتو ناول
۱۰٥. د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د کار لاندې کتابونو لیست

۱. هنر خطاطی و میناتوری در مراد خانی
۲. هنر کلالی در مرادخانی
۳. بې وخته باران
۴. د ژوند پای

(c) ketabton.com: The Digital Library


**د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا**

**....................................**

## د وخت او امکان په صورت کې

١. پخسه در افغانستان (به زبان انگلیسی)
٢. تاریخ معماری افغانستان
٣. حویلی های آسمان خراش
٤. ارتباط گذ شته، حال و آینده در معماری
٥. استعداد، سرعت و اقتصاد در معماری افغانستان
٦. شیطان چراغ
٧. خاطره ها

(c) ketabton.com: The Digital Library




Written by: Architect PHD Hashmatullah Atmar

Date: August – September / 2028

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library